سيد عبيد الله نادر

۲۰۲۴/۰۳/۱۶

د يوه بيت شاعري

دويمه برخه

که مي سر شي په لحد کې ايرى خاوري
هر ذرې کې به مصرع ستا د ثنا وي
««««««««««««««««««««««««««««««««
چي هر قدم کې ، ستا راتله نژدي کيده
زړه مى هومره په ګوګل کې درزيده
««««««««««««««««««««««««««««««
معرفت کې ځان اوبه کړه ، سر تر پايه
چي په علم باندى رسى ، تر خپل خدايه
«««««««««««««««««««««««««««««««
بى له عشقه ، زه په مړو کې وم حساب
چي مين شوم رانه جوړ شولو درياب
«««««««««««««««««««««««««««««««
فريادونه په ګوګل کې شو ل، خاموشه
ځکه کوڼ دى ، د فلک د اوريدو غوږ
««««««««««««««««««««««««««««««««««
په هوسيود ختن به يي ورنه کړم
رميده وحشي غزال د خپل وطن
««««««««««««««««««««««««««««
ډير حکمت په پټه خوله د ګل کې ، پروت دى
چي په رموز باندى يى رسى ، بلبلان
«««««««««««««««««««««««««««««««««
عنان د ژبى کړه ، په خپل اختيار
چي ښوک خوابدى نشى ، خولي په آزار
«««««««««««««««««««««««««««««««««
اميد مى دادى ،چي سمسور اوسى ودان
خداى دي نه راولي ستا بڼ کې ، خزان
««««««««««««««««««««««««««««««

هغوی چي تللي ، په کړو لارو تل
خود به يي نصيب وي ، په اوړدو لارو تلل

««««««««««««««««««««««««««««««««««

که بدلون د انارشيزم په معنی وي
خدای نه راولي ، مونږ کې داسي بدلون

««««««««««««««««««««««««««««««««««

ځوک په يو نظر د کاييناتو دفتر لولي
ځوک يي نه رسي د ذرې په مفهوم او عبارت

««««««««««««««««««««««««««««««««««««««

چي د ورکو پسي ډوب ، په لیونتوب وي
داسی يو انسان کې ، جګ اسرار لټوم

«««««««««««««««««««««««««««««««««

د محشر په شور وشر به هم ويښ نه شي
چي ککړ د چا وجدان ، په معصيت شي